پل

لطیف بہان

۱۲۵ هفتاق
۱

پسل

PROPERTY OF ACKU 2016

د شعرونو مجموعه

لطیف بهاند

۱۳۶۸

کتاب : پل
شاعر : لطیف بهاند
خپروونکی : د افغانستان دلیکوالو انجمن
دچاپ شمیر : ۲۰۰۰ تو که
د چاپ ځای : دولتی مطبعه «مانوتایپ»
مهتمم : افضل تکور
دچاپ کال : ۱۳۶۸ ش ۱۹۸۹ع

«پل» ته یوه کتنه

د گپ‌شپ په‌یوه مجلس کی یوه تن وویل: «ما تر اوسه شعر نه‌دی لوستی .» دوهم سړی په‌ټوکه وویل: «اوریدلی خوبه دی‌وی کنه؟» لومړی شخص په ځواب کی ورته وویل : «نه می‌لوستی دی، نه‌می اوریدلی دی .»

دوهم سړی وخندل ، له حیا نه یی‌خه ونه ویل خوپه زړه کی‌یی خامخا دا خبره گرځیده چی «یاروسخت د رواغ وویل ! دا څنگه امکان لری چی یوسړی دی په تولنه کی پاخه‌عمر ته رسیدلی وی په ټوونځیو اوپوهنځیو کی دی یی زده کړه‌هم کړی‌وی ، د پوهی اوعلمیت ادعاءدی هم ولری ، اوله‌دی تولوسره سره دی‌د شعر له لوستلو او اوریدلو څخه آنکار وکړی؟ ! »

ددی د پاره چی دوهم‌سړی د حیرت له مقام نه راوباسم لومړی شخص می مخاطب کړ : «فکر کوم چی ته‌تر زیاتی اندازی حق په جانب یی. رښتیاهم نظمونه زیات دی‌خوشعرونه دنشت په‌شمار دی له دی نه خود اسعلوسیږی چی ته‌د شعرپه جوهر پوهیږی . په‌حقیقت کی ته په یوه ایډیال شعرپسی گرځی ، هغه شعر چی‌تاته یی‌آدرس نه‌دی د رښکاره. زه پخپله هم دیر وخت کیږی چی شعر ته تیری‌م

زه یوداسی شعر غواړم چې دزړه تارونه سی په اهتزاز راولی ، یوه ناآشنا جهان ته سی بوزی چیرته چې دغمونو لوګی فضا نه وی لړلی داو ښکلو پرځای دښکلا فواری سری زرغونی جوړوی ، جذبات دانسانی ایډیال له مسورښ نه راتوکیدلی وی ، دشعر مضمون په زړه وړونکی موسیقی واوړی ، موزیکال الفاظ یی په ساغر بدل شی ، ګرګه اوبدرنګی دزړه له ناموس نه پر یمنځی ، او . . . »

لومړی شخص ، په داسی حال کی چې موسکایی په شونډو رپیدله وویل:

« کله چې ته چپ شوی زه پوه شوم چې دشاعری دباغ ارم وړسه دربانده ولګیده ، دتصویر ونواورنګینیو په جهان کی الفاظ درنه ورک شول ، فکر خیال دی دعواطفو په څپو کی لاړه ورګه ګډه کلمات ستا سرستی ته را نغلل . »

دوهم سړی چې لاهم دحیرت په سمندر کی ډوب تللی و ، کله به یوه او کله بل ته ګتل ، له ځایه پاځید ، څادر یی په اوږو واچاوه ، اوپه بی حوصله ګی سره یی خدای په امانی وکړه .

* * *

له دی پیښی څو ورځی وروسته د (پل) په نامه دشعر یوه مجموعه لاس ته راغله . یوځو شعرونه سی چې ولوستل داسی احساس را ته پیدا شو لکه چې زمان خپله وظیفه نه وی هیره کړی او غواړی چې دشعر پیمانه ډه کړی .

شاعر په دی مجموعه کی دلویو شاعرانو په پل قدم ایښی دی

یعنی دهغو شاعرانو لاره یی تعقیب کړی ده چی له ابتکار سره مینه لری او ابتذال یی نه خوښیږی ، حوادثو ته د بی تفاوته نندار چی په نظر نه گوری ، د ژانده تبدله دایری نه وزی او د آزادی د منزل په لور پرواز کوی ، خپل عصیانگر روح ته پناه گاه لټوی

او دیر ځله خپل غمونه د مغازلی په غیږ کی هیروی

ما گوښې و گړ چی په دی مجموعه کی د (پل) مانا او تفسیر پیدا کړم . په یوه ځای کی می ستر گی په دی بیت و نښتی :

گه ژوند شی ختم مینه پاتی ده لا

له ژونده وړاندی زمونږ پل تیریږی

نو د اسی ښکاری چی (پل) د حوادثو نښه ده او دغه نښه به د تاریخ په مسیر کی زمونږ د گړوو رو ترجمانی کوی . (پل) دوخت د حرکت پل دی ، د شاعر د زړه و یناده ، د چا پیریال هینداره ده ، د بی اجله سرگونو تصویر دی ، د ورانو نغریو تراژیدی ده ، د خزان شوی پسرلی سندره ده ، د تویی ساتولو او ځنځیر شر نگولو افسانه ده د طغیان او عصیان حماسه ده ، د اغزنو لارو سره د یبلو پښو ټرون دی ، له اورنی ښایست سره د خیالونو پیوستون دی ، بس عشق دی او جنون دی او نور هیڅ .

* * *

په تصویر جوړولو کی لطیف بهانه د حمزه په پله روان دی خو استعاری یی نوی دی او ځینی خو یی بیخی نا د ری دی لکه

دچیروصنم ، دحیرت څنډه ، دزګهت پښې ، دښو تربګنې ، دزولنو پلوشې ، او دوږوسوپیره .

که مونږ وغواړو چې دشعر پر دغه مجموعه د کوم ادبي مکتب تاپه ووهو ، نوزما په نظر دبهاند شعر ونه دانتقادي ریالیزم له چینې څخه را بهیدلی دی . دده په شعر کې وخت انځور شوی دی خو کله چې دپیغام وار را رسیږی شاعر ځان ناګاره اچوی :

ورکې دژوند نښې دانه ګنډوالو کې
لاری ږندی شوی څوک منزل نه پیژنی

اما داشاعرنه دی چې ځان ناګاره اچوی بلکې دژوند کړی لاری دی چې کله (او توپیا) ته نږدی کیږی او بیا تری لیری ګیږی . دا زمونږ عادت ګرځیدلی دی چې شعرونه دفکری موضعګیری اوایډیالونو له مخې ارزیابی کړو ، دشاعر پیغام دشعر مخراق وګڼو ، او دیوی علمی تحقیقی مسالی په شان دشعر نتیجه وګورو . زما په فکر ، شعر تر هرڅه دمخه دزړه وینا ده اوله عواطفو اوجذباتو سره اړه لری شعر که بشکلی وی یاهیجان پاروونکی ـ په هرصورت احساسات او عواطف انتقالوی (سوری) وایی : « ستر شاعر دژوند په باره کې دنتایجو دلاس ته راوړلو دپاره هڅه نه کوی بلکې په هغه کې یو کیفیت تشخیصوی . دده عواطف ، چې په یوه بل کې یې تداخل کړی دی ، وږو ورو په ده کې یو عادت راسینځ ته کوی ، څینې شیان او پیښې پرده باندی له نورو زیاته اغیزه کوی ... زما په پوهه

دا د شاعر دتجربی اسلوب عاطفی بنسټ دی . »نو پر شعر باندی دقضاوت اصلی ملاک ،له عواطفو او ایستیتیکی ارزښتونو سره دهغه دترون اندازه ده . هرشعر چی په رښتیا شعر وی یوازی په پراخ مفهوم سره هیومانیستی بڼه لری ، دورځی شعرونه دورځی لهتیریدو سره افول کوی .

په(پل) کی ځینی داسی شعرونه هم شته چی نیغ په نیغه مطلب ته ور دانګی ،دهنری سینګار دپاره وخت نه لری ،اوهنری ژبی ته اړیل نه کوی . په دی وخت کی شاعر لهشعرنه دپیغام رسولو دوسیلی په توګه کار اخلی ،اولهشعرنه شعار جوړوی . اما په عمومی صورت دبهاند شعرونه هنری دی اودشعریت چوهر پکی له ورایه ځلیږی . په دی مجموعه کی ځینی داسی غزل هم شته چی دپښتوادب شمله جګوی لکهد(۳۴ مخ)دغه سور ګل یی پهشغلو کی ایښی غزل ، یالکه دا لاندی شعر :

لکه نشه چی پهپیالو کی اوسی
داسی دی خیال زما پهلیمو کی اوسی
دجګ نظر ګیلی یی ولی کوی
پښتانه تل په جګو غرو کی اوسی
(ترپایه پوری . . .)

په پښتو غزل کی هر بیت مستقل دی او داسی ښکاری لکه دا چی دپښتنو دانفرادیت خوښونی سمبول وی د«پل» په مجموعه کی

دبیتونو د استقلال ترځنګه ، په هره توته کې تر زیاتې اندازې
ووالی ، انسجام ، او تسلسل هم لیدل کیږي . (ترزیاتې اندازې)
سې محکه وویل چې په ځینو توتو کې عشقي، حماسي، اوسیاسي موضوعات
داسې سره ګډشوي دي لکه دختم اوخیرات په غونډه کې چې نامتجانس
خلک پریوه دسترخوان سره ګډیږي او په مشکل سره ګډولی شي چې شتر ګه
موضوع پیدا کړي. ددې لاندې مطلع لرونکې غزل یې یومثال دی :

څنګه چې په سایې نظر پریوتو
هلته سې له ستر ګو بصر پریوتو

د (سات تندې) ترسر لیک لاندې بیتونه هم انسجام نه لري حتی
تناقض پکې لیدل کیږي زه نه غواړم دمثالونو په راړلو سره بحث
اوږد کړم . زما مقصد دادی چې لطیف بهاند ګله ګله د ګلاسیک
سبکونو تراغیزې لاندې راځي دشعر په توته کې ګلیت اوانسجام
هیروي . ددې خبرې ضمنې مانا داده چې د بهاند په مجموعه کې
د ډیرو څو شعر و نوترځنګه څه شعر و نه هم شته. په پای کې وایم
چې د (پل) په خپریدو سره به پښتو ادب لاهم ځنې اورنګین شي.

ګاندیدا کا دسوسین
محمد صدیق روهی
۱۳٦۷/۵/۱۴

»له ستر ګو بصر پریوتل» اصطلاح مانه ده اوریدلی ، ځایې چې
عاسیانه اصطلاح به وي. یادونه : په لیک دود کې د (ماته وې، سمه
وې...) پوځای (ماتوې، سمه وې...) پرځای ماتوې سموې څوره ګنم

غزل

چیرته خزان چیرته انغزی ستمگر
زما په وطن کښی پسرلی ستمگر
دید نظر نه یی گیله نه کوم
گیله می دا چی سپیلنی ستمگر

که یی دسرو ستر گوستم وگو ری
درنه به هیر شی پرونی ستمگر
سا قی دیره شو له زاهد سره اوس
راته یو شوی خپل پردی ستمگر
دمیخانی د نیامی لحکه خوهه
نه یی هوښیار نه ایونی ستمگر
دشونه وجام دی زما به شونه وکیږده
که شیپه هیر شی ژنی ستمگر

غزل

پرون دوخت تو روتیارو وخودم
زن سی دخوهی سرودیوو وخودم
دمینی اورکی دی زمبه امبه شوم
چی سرمی پورته کړ اوگو وخودم

لکه د دښمن چې په وطن خوارۍ دی
زه دی په سخ خورو کمښو وخوړم
د بنکلی عشق کمی سی په دار خیژوی
زه د قاضی دی قیصلو وخوړم
چې د پښتون وینی ته تږی ناست دی
ددی ماحول دی پښتنو و خوړم
دا ستېداد کړی خوماتی کړی ما
خوستاد زلفو زولنو وخوړم

دتقو اپیتمی

چې پټ کلو داشنا پسې تلم
په خپله خوښه زه په غلاپسې تلم
چې ستا په سینه کې ساهل ته کنډل
ولې له کوره زه رنا پسې تلم

ماوی چې نوم یه دی په خوله وانخلم
هرخوا چې لاړمه په تاپسی تلم

د تقوا پټی ستړی کړی ومه
محکه چومات ته په ملاپسی تلم

ماخو ګنهلی وه ټکلا دژوندون
څه‌نا خبره وم بلا پسی تلم

ویلی رنا زما دستر ګو واخله
په‌تورو شپو کی چې سپاپسی تلم

غزل

ستاهر مخبره چې په زړه راځې
ژمی د ګوګل ته سی تاوده راځی

څابی چې دسوښی په کال شوی یم
ځکه زوم دهګلو تل پهخوله راځی

اوښکی چې خبری په راتلا دی شی
تاته هر کلی ته می لیمه راځی

چار دی د تبد و تودو کتو نه شم
دا تا وده که نه وی بیا ساره راځی

لاره شه ویده شه ای درنی ته بی
ما ته د چارچه کلی میلمانه ر اځی

زه چې دی قافیه کی بیا غزل لیکم
دی قافیه ځی ستا یادونه څه راځی

غزل

هه له رانه پرچمی اشنا هه‌دی شم
راشه چی دکانی زړه کی زړه دی شم
وی چی رقیبانو ته سدام په غوږ
اریه دی چی دژلی په سرنه دی شم

غیر داستبداد که و ر کول غواړی
وکړه اراده چې ټور ر انجه دی شم
خیر دی نه تیاری سی ژوندون لوټ کاندی
گوندی چې شیه دلمر خاته دی شم
ته گنی وفاله سادی ژوند واخیست
نه سی شی گوسان چې سنا به چه دی شم
جگ چې هرانت ته وی پښتون به شان
وهړه ستر گی چې باغه د ی شم

۱۳۶۶/۲/۷

مرور

لکه بلبل و ی له اغزو مرو ر
داسی می زړه ستاله بنو مرور
هریو په خپل وا ر په ساظلم کړ ی
زه له تیا ر وزه له رنځ مرو ر

به سانا دودی ستابارِ خوِ کړی دی
لکه اوس زړه دی له سپیدو سرو ر
و روڅودی حکم شوند و قتل کړی
شوم له کعبو له سیکدو سر و ر
د پردو جبر ستړی کړ ی.نه یم
یم له دی خپلو پښتنو سرّو و
که ستاد ستر گو خوږ اثر نه لری
زه له دی خپلو هزلو سرور

دزلفوپوځ

داغزل به ایکم دهنا په زړه
خیر که بدلګړی دبل چاپه زړه

پوځ دزلفو راغی په بشری باندی
بیا تیاره خوریږی د رنا په زړه

ژنگ شوسه تنوی نه ای خوږی گناه
گو که یوتالان ددی بلا به زړه

پریږده چې په شپه کې دی ویده شمه
سل بې شوی دتادایی ژما به‌زړه

څې‌می قتلگاه ته ښکته سینه
را شه تماشې له دا بې ستاپه زړه

څه له را ته پوښتې چې سړل چږی
نښه ژما و ستاده دسبا به زړه

او سم غم لږلی یوسکوت کې زه
چوږ کږی راته کلی دغوغا به زړه

پلمه

داتازه هزل دی وی دتایه نوم
لیکم دتیاروته درنایه نو م
بادزلفو شوه به خپله غږوهه کړه
نه کوم پلمه زه دیل چایه نوم

وی دی رقبان تبری په لاس ولاړ
لاره د منصور دی وی زما په نوم

وی دی رقیبان استبداد په تخت
دار د آزادی دی وی زما په نوم

اوس چې را سره یې راترغاړی وخه
څله می تیر باسی د سبا په نوم

ای داشنا یاده در پسی روندیم
راشه یوځل راشه داشنا په نوم

ستاله چه پو شوندو څرل وزیږید
اوس تکل کړم ستاد سوسکا په نوم

راشی غلامانو زنداری ته می
وژنی می سپاته دغوغا په نوم

۱۳۶۵/۹/۱۶

غزل

دناز په مزویی لاسونه تړی
دا په پرېږو تو وچ ډاډونه تړی

دسینی گل له یی پهویږه و لوی کړم
اسمان دی خپل خپل ها رانو نه تړی

زه دتیارو واکمن ته محکه حیران
دی په نیارو سره مشالونه تړی

زمونږه لاس وپښې خوشه کوی چې
که زورلی وشی دوی وختونه تړی

اخر به رسو دسپرلی میوته
چکاری که هوسره زمونږ وزر ونه تړی

دوچو شونه وابدی غزل دی
زما په زړه کې غزلونه تړی

قسمت

گوره چی قسمت ترکومه راوستم
غم دمحبت ترکومه راوستم

ماخوتکل ستا دکلی کړی و
پل دی دالفت ترکومه راوستم

ډوړو خو غیرت ته سخه پهه ورکړه
ز ه پښتون غیرت ترکو مه راوستم

ماچې ډرنا ناوی ګنلی وه
هغه تور ظلمت تر ډومه راوستم

ستا پهتش کتو کی می ژوند بایلوده
دی معصوم وحشت ترکومه راوستم

جنگ

چی خاوند یی داسی تللی
داسی تللی
داسی تللی
چی نه ایا کله را نه شی

یه دی لا ره
خو دوی ناست دی یه د ی لاری
جنگه !
تاده اوږ ده کړی دغه لا ره
اوږده لا ره
لنده لا ره
جنګ دی جنګ دی غږیدا سی رانه اخلی
ارادی سی رانه اخلی
دفکروزو سود اګردی
دادنوی عصر غله دی
دوی په غلابانده جنګیږی
زمږ سینی په وراندیږی
زمږ کلی په باریږی
په بی لارو لارو ، لارو
په دی ورکووچو شارو
خو :
چوږ وو به ارادو نه
نه ښونه

امیدونه

نه تاکونه

هسکی مینی

هسك برجونه

د ریدونه

هسکیدونه

پاڅیدونه

ګنه !

خپل تاریخ مو را ته سوځی

بل تاریخ راته جوړیږی

په تاریخ باندی مړجنګ دی

جنګ دی جنګ دی دامی جنګ دی

لوی چهان په سوبه تنګ د ی

چه څو ګوری دچا جنګ د ی

دچاجنګ دی ؟

دچا جنګ دی ؟

ولې جنګ دي ؟

خواب

چی بی لەشوێ وتە شراب وریپی
خود بە بە تۆزو اضطراب وریپی

دڵسڕلی بە با رانو کی خلکە !
تانی بە ماخانە خراب وریپی

داچی نی لا ری بی گودره شومه
له خپل کتونه بی سراب و ریږی

داستادور وخوله سحراب نه گلی
په چا عذاب په چاثواب و ریږی

دښکلو حسن نه چی گورم کله
په سایادونه دشباب وریږی

چی دراتلو زیږی یی وشی چیږی
له سودډیتو هم گلاب وریږی

مادخدای کور کی هم وصال وزه سوند
په ساخو تل دهغه خواب و ریږی

جړه غوټه

زن چې مې لیلا راته دښمنه شوه
ښکاري چې دنیا راته دښمنه شوه

ماهغې موسکاته چې ژوند وباښه
زن خوښي خندا راته دښمنه شوه

اور دانګو ته چې وروختم
ستر ګو کې حیا راته ډېره شوه

ګوره دقسمت دی چې غوټې ته
مینه کې وفا راته ډېره شوه

هرچیرې چې لاس کیږدمه اوږې باندې
ښکلا کې ښکلا راته ډېره شوه

ښه سې چې دلمر په تور وقتل کړه
ستر ګه دسبا راته ډېره شوه

ماخود تیار وپه زړه پرغل وکړو
څه وکړم رنا راته ډېره شوه

دغزل مقطع

داستا په شونډو وچې موسکاویده شوه
زما په زړه کې تمنا ویده شوه

چا دې د شونډو وقیصه یاده کړه له
ساقۍ ور ډوری کړ مینا ویده شوه

فننی دستر گو دی چی وینی شولی
ه ډیره شرمه بی حیاویده شوه

د پلو شو اړی چی گورمه زه
چه شوه چی ستر گه دسپا ویده شوه

چی رانه غوازی دزلمو زړه وینه
دزړه په مینه هه بلا ویده شوه

چی بر الا خلکو چه وکنځله
دزړه په کور کی سی په غلا ویده شوه

شانه کتل دی شول مقطع دغزل
دساز تارو کی دی خندا ویده شوه

غزل

په تش کټو کې را نه زړه پټوی
په رنا ورځ بې خومره شه پټوی

خوږه موسکایی دغم زړی کړی
چکلی خوږ و کې څه تر څه پټوی

هر وار کتونه یی اجل و زیری
ستر گی یی سری دی خون به څه پټوی

څکلی یی لاره د ی په لار به نه شی
په سینه وایی داخونه پټوی

ملالی ستر گی یی تل څارم نحکه
له رنو ستر گونه را نجه پټوی

زه دزاهد دی ساده گی ته حیران
ریاد عمر په لما نحه پټوی

راشی دغیرونا کردوته گوری
دوی له دنیا نه پښتانه پټوی

ارمان

ستا اننګو کی چې ارمان لټوی
تورو ایرو کی دی خپل ځان لټوی

دا دزاهد و پی دنیا ته ګوری
دچوسات ټیرو کی سپځان لټوی

زه د پښتون دی سرکشی ته حیران
د سرو چنرکی آسمان لټوی

دا ور په مغ کی به ولاړوی هېش
څوك چې په پکلو کی جانان لټوی

دوه پښتنی ستر کی یی نښی کوری
زما زړګی ته که څوك ګران لټوی

تللی ځوانی

زن چی دی خیالونه دی تاوا ن په ما
باغ کی سره ګلونه دی تاوان په ما

تا تللی ځوانی په هوس و خوږه
هه له تیرلوزونه‌دی تاوان په ما

ماتی می کړی کړ ی درنالە ښیو
اوس بی لمنځیرونه دی تاوان په ما

داغ دمحبت دی په تندی ولړمه
ټول دامی داغونه دی تاو ان پەما

ستادتهمتونه تورکی سپین شومه
راشه تهمتونه دی تاوان په ما

نور څه و عده نه کوم دروغجن به شم
سترگی غزلونه دی تاوان په ما

ماچی ستاد سترگو په نوم و لیکل
ټول هغه شعرونه دی تاوان په ما

غزل

شمع مرګیټ کاسته رلما چې وینې
غمونه تښتي ستا موسکا چې وینې

د عشق تر یوو هم په هدی خپه ذی
دزړه په کور کې ځنا چې وینې

څوك لېونی به دی په خوله ټیروزی
ستاد نظر پټه سودا چی و یښی

په رقیبانو دغم کانی او ری
دهکلو سینځ کی ما او تاچی ویښی

زړگی شکمن شی دملیار په سینه
ورانه ویجاړه پښته نخوا چی ویښی

غزل

دلته چې دهکلو قدم وانګیږ
کور د رقیبانو کې غم وانګیږ

ستادا ننګو لعر چې راوخته
او ر خوبه زرګی د شبنم وانګیږ

هلته شو ناآرامه زړه آرام زما
غشی دښو چې بې سم و لګید

چا ر دمیکدی له محبته شم
دلته په ما باد دحرم و لګید

خومره بې بې زړه کړه دازړو رخلك
په شو چې زړګی دستم ولګید

لاړ له خپه شوه درنا ناو ی
غشی دتیار وپه صنم و لګید

متا چې غزلیز نظر میلمه کړمه
زما هم په غزلو قلم ولګید

دخدای تور

تش‌راته وگوره غږیدای نه‌شم
شونډه‌ی‌سی ګنډلی موسکیدای نه‌شم

مه کړه اشاری سپینه بی ووایه
زه‌ساده پښتون پرئ پوهیدای نه شم

چکلی دخدای تورده ورته گوری یه
مه‌قار یوه ستر گی خو گنډا ی نه شم

دومره می ترخې دژوند څکلی دی
اوس په دی هراړو مستېدای نه شم

مړه شمه څاوری اړاو که یه شم
هرڅه شم خوستا مړی ګیدای نه شم

داسی رڼاڅه کړم چې سی و سپږ ی
ستر گی می رڼی دی خولیدای نه شم

مات تندی

دامات تندی زمادغم نجبه ده
څیری گرداو می دستم نجبه ده

له دی ای لارو لاروځمه محکه
دلته دهکلود قدم نجبه ده

دا بی خوله په انگو کی له ده
د گل په پانه دشبنم نښه ده

تیاری کړی جوړی تورې سوړ اړوی
دا به ساتم کی دساتم نښه د ه

هډله پوښتی د څکو لپی له ما
نازو وغرور ددوی دچم نښه ده

زړه یی کعبه دی لری تاویږی مین
دشو الو څنګ بی دژ مزم نښه ده

له گلو وروسته می پوښتنی کو ی
پښتو غزل می دتلم نښه ده

غزل

له دغو پوله د ترخو کیسه ده
زموږ ژوند خو دسلګو کیسه ده

ستارا کتواوله کتو کې آشنا
خه د ، ر ګوځه د ژوند و کیسه ده

تولو وهو کې چې رنا ته رسې
ان دهغه پر او زولنو کیسه ده

خود به سندري تل دبل هیرو
چې له موږو رکه دښتو کیسه ده

چې په پاروتو خپل زامن خپلول
موږ ته رابیجه دهغو کیسه ده

دبل له پاره چې په اور سوځیدو
زموږ کیسه دسپیلنو کیسه ده

د ګل هو پټولکو په محفل کې خلکه
ان داغ ودتر بګنو کیسه ده

دستورو ورادتیارو زړه کې هڅا کې
رارسیدو نکې دسپیدو کیسه ده

لږدې محفل نظر ته وا به ګلې
لاهوڅولندې دښتنو کیسه ده

سر کشه‌نا ره

لکه دوزخ کی چی اورونه او ری
داسی وطن کی می ښونه اوری

په هغو ستر گوچی وطن نازیږ و
هروار کتونه بی سر گونو اوری

چیرته ناره دسر کشی شوی لری
دپښتنو باندی سرونه اوری

لارو کوڅو کی گرځید لای نه شو
د رو دیوال له ډیغورونه اوری

اخته ره بس کړه قربانی مه شواړه
د شاه ژنمو چې په کی زړو نه اوری

دغه رڼا یی شیطانی راپکاری
له ډاو شوی څنځیر وله اوری

ستاد جنت قصه چې یاده کړی څوك
د تول عالم پری لعنتونه اوری

غزل

لکه وطن د حادثوبه زړه کی
داسی دی ساتم دلیږوبه زړه کی

به خوزورځوکی موشوی توی وینی
دبوګ شوی ملی دتیار و به زړه کی

بانه د ی پاتی په سینه کی زما
لکه اغزی وی دغنچو په زړه کی

چادی رندانو ته دشوندو ووی
باده شوه پاتی دجامو په زړه کی

دشهی لمن ته ورخطا چی نه شی
خیری به داشی دسپیدو په زړه کی

چی دتقوی په کور تالان گډیږی
مایادوی دمغوشهو په زړه کی

مقتل

کله چې لاس دی په وینو تر بیږی
په زړه می ویره داجل تیریږی

چې تصور می ږی رنګین دی مدام
دا ستایادونه مسلسل تیریږی

دیر نازولی له شی ستړی په کې
صنم ته لاړه په مقتل تیریږی

که زونه ځی ختم سینه پا تی ده لا
له زونده وړاندی زموږ پل تیریږی

دانتظار شوتی به خود رژیږی
سیلی دهجر په محل تیریږی

هغه ساقی چې جام کې زهر را وړل
اوس په محفل کې لکه غل تیر یږی

که هوک زموږ دحال پوښتنه کوی
ورانه و ختو نه به غزل تیریږی

قاتل

چی همیش بی هایستو پسی مزل دی
خراب زره می اوس به خپله زما قاتل دی

کله غم کله پیغور کله تورونه
ستاله سینی نه همدا زما حاصل دی

که پرون می ویښه تویه شوه غه باك دی
هریو څاڅکی ته چی گورم نن سور گل دی

په سپرلو کی دخزان سیلی لگیږی
داغزو حکمرانی شوه چپ بلبل دی

دجنت کیسه دی قوله دزاهدوی
چی می خوب سدام دښکلو په څنگل دی

عشق دښکلو گلو وروسته په دی پوه گرم
بی له مینی قول ژوندون زما باطل دی

غه حاجت د ی چی سفر گوم گعبی ته
له گعبی نه ماته گران پښتون کابل دی

غزل

دغه سو رګل یې په شغلو کې ایښې
که یې سور خال په اننګو کې ایښې

دسالګې خونه ستا کښل وړا کوی
خدای څه الرسنا په کتو کې ایښې

په نورو گل په سوه ایری وریږی
زموږ قسمت یی په لمبو کی ایښی

شور د بنگړو سره یی روږ دی شولو
هکاری عزت مو زولنو کی ایښی

چاد منصور د دار کړی خوښی کړی
چاخو تندی لاپه سجدو کی ایښی

که دی تیارو کی زموږ دیدن یادیږی
هغه خو موږ کور دسپیدو کی ایښی

چی درنه زاړ او صدقه شی گلی
ماخپل زړگی په سپیلنو کی ایښی

غزل

چی‌سی دتا دستر گو تور خوبن شوی
اومن درقیب می‌هر ډغور خوبن شوی

ھی پناه وروړم پښتنی دود کوی
څکه می‌ستادلې‌مو کور خوبن شوی

دسنم اور راته گلشن پکاری اوس
چې مې دستاد یار خواور خوښ شوی

چې نه ایلیږی دزمانې ارعون ته
زما دساده پښتون و ج زور خوښ شوی

توریې دسینې زما غزل غزل کړ
دپکلو عشق کې مې هرتور خوښ شوی

داغزوحکمرانی

- چی وحشت دی له لیمونه پناه غوښته
دی قاتل له پښتنو نه پناه غوښته

پرون وارنه وپه وره دسیکدی کی
عاقلانو له نشو نه پناه غوښته

عاصیان یېگا جرګه وپه زندانو
لیونو له لیونو نه پناه غوښته

چې پرون ترینه منکر و په دنیا کې
ژن هغو یېا پښتونه پناه غوښته

چې دښکلو په صفت ژبه غوځېږی
خوار نظر می تش کتونه پناه غوښته

داغزو حکمرانی یې په نصیب شوه
چاچې باغ کې سرو ګلونه پناه غوښته

غزل

گل د پسر لو کی می اغزی رالحی
کور د ښتنو ته چې پردی رالحی

ستاد کو څی ټکی ته حیران یمه
روغ چې د رلاړ د رڅی لیونی رالحی

یا یا نه چګ شوی د ایمو په زنګ
څکاری چې وخته نه پښتنی راځی

زړی دو فاچی چیری و کړم
ساته دجفا تری بژغلی راځی

ځان به تری لوګی کم چې نظر نه شی
غو چې په دی لاره سپیلنی راځی

څکه نن سودو نه پس غزل لیکم
زړه ته می یادو نه پرونی راځی

منت

جوړه خبره چې وعدو ته سپاری
زما زړګی داور لمړوته سپاری

خود به شکمن یمه دښکاو په لوظ
هره وینا چې دوی پلموته سپار

چې بې ځغمې د آزادۍ ویلې
ګوره هغه اوس زولنو ته سپارې

څه ره ګیلې له هغو خلکو ګوې
څوك چې ځندۍ تیټو سجدو ته سپارې

د عشق پۀ سینه ده تالان ګډیږې
څوګې د سینې چې څوك غلوته سپارې

د د ې تقدیر سره به څه ګووسوې
د رنا خدای موتور وشپوته سپاوې

د پښتنو ستر ګو منت دې په ما
چې بې غلچك ماغزلوته سپارې

غزل

لکه په گل چې داغزو پیره ده
داستا په ستر گو دښو پیره ده

دسینې اور کې اورلړونې شومه
خوپه لمبومې دلوگو پیره ده

درنا ناوی پار پورته نه لږ
زمږ د محل کې د تیار وپیره ده

دارمانو نو غلاوی کیږی دلته
په هر قدم کې چې د غلو پیره ده

د پاڼو وپوښتنه څه له کوی
هم په زګوت هم په وږمو پیره ده

ستر گی ښکلا خو رقیب ستر گی خاری
نادودی گوری په پیرو پیره ده

د سهر چغه

بیا د پیغلو چم کوی شرمیدی نن
سینه یی په ستر گو کی پټیدی نن

زه لکه پریوته ترینه تاو شومه
دالا سر کشی کړی اوچتیدی نن

جار خودی دستر گو له اثر نه شم
سرمی له نشو سره جنگیږی نن

ماچی دسحرچغه او چته کړه
تول واکمن دشپو راته گوڼ اچیږی نن

ستر گی می ده خلاصی او که یې وی
ستا دستر گوست راته یادیږی نن

بیا بی دسرو شونډو وعده کړی ده
تنده دګلونو می ماتیږی نن

غ ز ل

دچا کنډل چې مې نشې ما توې
د شونډه وخنډ دې زما تږې ی

دغلچکو کتو اثر نه دې چار
له لاس او پښو مې ژوبلې ی

له ستر گو وزی خوبه زړه کی اوسی
پکاری چی دازړی پنجری ماتوی

پخوا خو څه وی په خو بو کی راتلی
اوس په خوبو کی هم وعدی ماته ی

مانی دسرو زرو به څه کووسو ړ
خوکچی زموږ دزړه شیښی ماتوی

چی دساقی تندی یی گونځی وی تل
رندان به خود خپلی پیالی ماتو ی

مات تندی

دا مات تندی دجوړید لونه دی
خیری ګریوان می دګنډلونه دی
خپالونو باړ ګړی ګډی زه تمیری
متاسو محل داو سید لونه دی

که ته می هیر کړی زه دی نه هیروم
هر تیر ساعت دهیرولونه دی

ساویل چی وران یی کړه هیربه می شی
دزړه وطن دورانو لونه دی

چی له رقیبت سره خندا کړی کړس کړس
جانانه رنګ دی دکتلونه دی

پرهار نظر چی «ټکو ره» نه کړی «انځور»
زما غزل خودلو ستلونه دی

رنا ته لار کی په ساخه تیریږی
عالمه حال خود ویلونه دی

داسمندرنه دی لمبی دی خلکو
زما نظر دسړیدلونه دی

دکوخوخوکی

دښو خوکو دی اجل وایکه
گلی ،رڼتیا که یی په چل وایکه

دکوخو خو ی دی چې غوټه کړلی
زما قسمت کې دی هم ول وایکه

د رقیب خونه کی الغاو تلغاو شو
په پښتو ژبه می بدل ولیکه

چې په وعده کی راسته نه شولی
ماشوم زړ گی ته می تسل ولیکه

څمکه تبی کړه ناکردو دغرو
بیا خو بی نوم پری دازل ولیکه

دستر گو چپ نه دی خوشال څکه شوم
زن می غزلو کی غزل ولیکه

دستم ژبه

چې زن ریبار راته غږیږی دصنم په ژبه
بیا را وریږی می غزلی د قلم په ژبه

دخانخانی اوروزو و سوو څه بی ځایه لاړو
جاری دی بیا دغه نا ری ستاسو دچم په ژبه

ساقی دوکه کړو خوك راننه اوخوك ایسنده شواو
خود به غږیږی نن رندان قول دماتم په ژبه

دهکلو بی لوظی کی می ژوند تیرشو خوحیران یم
څنګه تیرباسی می خوږ ژبی دقسم په ژبه

وخانده موسکی شه دکاونو چوپتیا ماته کړه
په ستم اوږی چی غږیږی دستم په ژبه

نیمگړی مصری

نه دی داشعورنه اشاری پاتیږی
نه‌دی دحسن سړی لمبی پاتیږی
اورم‌غړه کړی اورنی پایست دی
خوله هراوره تل آبری پاتیږی

ستا دهکلا له تالانگروا کمنه
نه خو پرهیز اونه توبی پاتیری

کله به ورك شی دابیواکه واکن
د واکه توری ادیری پاتیری

څه له کڕی طمع دوفا له هکلو
دوی نه خو تش دغم قیصی پاتیری

ستا لیونی چایست زه ماته اشنا
نس دیادونو زو ننی پاتیری

یووار راوگوره غزل لیکمه
کنه نیمگڕی د اسری پاتیری

درنا کورنه

ماته می توبه وه چورلیده او تله
ډیره شرمنده وه چور لیده او تله

زړی دنشی یی کرل دم قدم
بی میونشه وه چورلیده او تله

لاړله مقتل ته د اُسید په نوم
سینه مې ساده وه چورلیده اوتله

څلی دا یرویی ځان نه پریښودل
تکه سره لمبه وه چورلیده او تله

ماورته دهیلو شین چمن ګړو تاند
دا یو پرښو که وه چورلیده او تله

لا ره مرګنی وه د رنا د کور
هیله پښتنه وه چورلیده اوتله

داربی دتیاروچی ورته ودراوه
موسکه ژوند ډیوه وه چورلیده اوتله

هر څه رانه و سول دوزخی ماحول
څه خوارا ده وه چور لیده اوتله

دښیرو صنم

هغه نادودی چې رنا پسی شی
د پکلو مینې کې اوس ما پسی شی

لږ په آو اړه قدمونه اخله
ستر کې ژندی یه می اوس تا پسی شی

دعشق له نوره نهویریوی څه له
دغه خبری په هرچاپسی شی

ستاغلچکی کتل به هیر کاورته
هغه قیصی چی دلیلا پسی شی

هو مره سزل غواړی دمیشی ډولی
دظلمت شپو کی چی سباپسی شی

له اخرنه یهم تور شم درته،
اور خودی پوری په دنیاپسی شی

دزړه حرم کی یهصنم تری چور کړم
هغو شپرونه چی اشنا پسی شی

۱۳٦۳ کال دلوی ۲۲

داستاد حمزه پردغی غزلی د شاعری په لړ کی

« چې پسرلی په سوسید وښکاری
ښکلی خوانی په ویښید وښکاری »

غزل

چې ښې د شونډو وهه پیالو کی هکمه
لیونی زړه په وریتهدو ښکاری

قسم چې ښا په دغه لاره راځی
زړګی زما په درز یدو ښکاری

وږه ده بنده دطلسم کور کی
زړه دسپرلی په چاودید وچکاری

چې دی کتل په غلچکو بدل شول
ستا پیغلتوب په رسیدو چکاری

دنمه داچې معجزی تیری دی
خواور کی گل پهتو کید وچکساری

چې یې دعشق په تیند کونو خندل
هغه دی لارکی په لویدو چکاری

راځی دزړه باران پری وورو
دسینی گل په سراویدو چکاری

سپرد کابل سپرلی خپه زلمونه
پاتی گلان په سوځیدو چکاری

راته یی لخوانه گډه دنیاد غزل
دخیر که حمزه په زړیدو چکاری

پښتو غزل

چې ځایګانی له هر قدم نه زیږی
خود به غرور له هر ځنم نه زیږی

سه کړه اوږده شی دغه بلار به شپه چې
تل رڼایی له د پرتو تم نه زیږی

دغم لښکر دی هم حیرت و روی
راته صنم داستاله غم نه زیږی

راشه دعشق آوره زړه سی ویلی که
اوښکی جر گی دی چی له نم نه زیږی

دزګهت پښو ته زولنی اچوی
دغه فریادستا سو له چم نه زیږی

ایره به شم دهغو زهرو له زور
چی کابلی و رو خو لږم نه زیږی

دپښتنو سترګو اثر یی ګوره
پښتو غزل چی سی قلم نه زیږی

ډیوه

لکه عاصی چې دو زخو کې سوځی
داسې سی‌زړه ستا په خیالو کې سوځی

داستا نازو نه په بې نازو خلکو
لکه ډیوه چې اډیر وکې سوځی

د حسرت غنډی ته نږدی شوم ځکه
دامید ګل می په او بو کی سوځی

نه داهار نه دنمرود او رو نه
زموږ غوتی په پسر لو کی سوځی

موسکا چی و رکه کړی د ناز کتو کی
ته و اغنجه باو شغاو کی سوځی

اور خوله آو ره پورته کیږی خلکه
شونډی د شونډو زیښیدو کی سوځی

په دی نا راضه زړ ګی څه و کړمه
هم په کتو هم نه کتو کی سوځی

غزل

چې په کټو اوغلچکو واوښتم
څه په ډارو ډبدوغلو واوښتم

پوره یو کال چې شوم نې لو ظه د رته
چیرته دښکلو په وعدو واوښتم

هلته سړه شوه او رنې ځوانې مې
چې دې دښوندو په لمبو و اوښتم

د ژوندون ورکه سې پیدا کړه په کې
چې زه په لار دلیونو واوښتم

چکلې نظرته دې چې ورسیدم
زه دنیو په تر یګنو واوښتم

لمرته نکل د رسیدو کې خلکو
د پاوشو په زوانو واوښتم

پښتو غزل ته سې کړه مخه ځکه
چې دې په ستر ګو پښتنو واوښتم

کابل ۱۳۶۳/۷/۲۲

غزل

نکه نشه چی په پیالو کی اوسی
دامی دی خیال زما په لوبو کی اوسی

دجګ نظر ګیلی بی ولی ګوری
پښتانه تل په جګو غرو کی اوسی

د ریها رانو پښې اړه اړه شوی
دسپنې راز اوس په وږمو کې اوسی

راشی ناڅودی دستم وگوری
گلان ټول تللی په اغزو کې اوسی

چې بې ځنځیره در نه گاڼو مات کړ
همه ټن خپله زولنو کې اوسی

کله وحشت چې بې لیږو کې شی میشت
واړه چې غیر په پښتنو کې اوسی

د تورو سترگو نظر مات پدی شی
زرگی پخوا لاسپیلنو کې اوسی

د گل په مچ چې پابند ی لګیږی
نورا به خود په سروشغلا کې اوسی

بدل

ستر گی را وا رو ه غزل می خو ش شو
چی ستالهستر گووی اجلمی خو ش شو

چی نه خلاصیری د قسمت غوندی می
ستا د کمخو هغسه ول می خو ش شو

لار دغاو رو بی چی نه منله
دپری سرو نو هغه دل می خوښ شو

چی بی په نښه پیدا کیږی ورکه
ددی بی لارو لارو ډل می خوښ شو

چی ادا کیږی پس له سلو ګلو
دپښتنی دنیا ډل می‌خوښ شو

کینه چی ورك شمه په سترګو کی‌دی
دژوند مزل کی دغه حل می خوښ شو

غزل

نظر نظر کې مې خوږل ولیدل
دستر گو لاندې مې کنځل ولیدل

راته چې یار په غلچکو و کتل
د رقیبا نو مې لویدل ولیدل

ستر گی پهلا ره وم چی لاړه راغله
ستر گو دستر گو بدل و ایدل

ژبه شوه گونگه نوریی سون و نه کړو
ماچی دستر گو غږیدل و ایدل

چکاری زما به شی دحسن سیره
چوړ می خو هونه په هنګل و ایدل

غزل

چی دیګاړ د ښندا شور را سره شی
دحرم و میکدی نه می توپه شی

دایرو په غیر ازګار ساتم په زړه کی
ګوندی وی دستم درمند کی لمبه شی

چې د تازدو شونډو جام به شونډو وږدمه
هغه دم می د ژوند تنده یو به دوه شی

تله راتله ستاد کوڅی خان له جهان ځی
چې و رګډشم ټول وجود نشه نشه شی

دغهل وخت د زولنو ږهار به هیر کړم
که می ستاد خمونتال کی یوه شپه شی

پس له مرګه می وصیت ټولو ته ډادی
چې جونګړه می د بنګلو مدوسه شی

غزل

بیار بیار دهم درولی ر اته غم دی
کور کی اینبی می سکرو تو کی ندم دی

درلیب دیغورونو له گذاره
وهر لوری ته چیو گورم ماتم دی

نصیحت او زما زړه سره تړبرونه
په هروخت چې مخامخ شي جنګ بې سم دی

هم مې خوري او هم مې و ژنې هم راګران دی
دا به څه وي کابلي وروڼو لږم دی

ګډ دښکلو د مکیز خبرې نه وي
هغه دم مې غزل و رګ ماټ مې قلم دی

چې دښکلو اسویلو آسمان و ریځ ګډې
دغه راز زموږ د دوړ دستم دی

زه په دی دښکلو ژجونو ژوندي زیږم
وخته ستاد پرهروڼ داسلهم دی

گران شاعر دوست اقبال ډاناته
د عارف خټک ددغه شعرونه اقتفا :

« خو یونه مرور دی شو ګیرونه ستړی شوی
زخمونه می چورنه دی فریادونه ستړی شوی »

غزل

ښکلونه ستړی شوی زنځیرونه ستړی شوی
زموږ دی سرکشوته زندانونه ستړی شوی

د باغ دغوټو نښه د ملیارد خوا خوږی نه ده
غوټی چې ر اغوړیږی خزانونه ستړی شوی

حجرو دپښتنو کی دیوی چی بیابلهیری
زلموکی تریخی نشته تالانونه ستړی شوی

هر یم چی وغور ځیږی شی باغچه د گلو ورانه
وطن په گلوفرش دی خوبهونه ستړی شوی

وعدی نه دی قربان شم ستاسیا به شی لاکله
سنم یی په سرستر گو خووختونه ستړی شوی

دیره دحیرت ښار کی تدبیرونه لاس تړلی
قافلو کی دژوند نښی جرسونه ستړی شوی

اقبالهٔ له خدای کړلو دمنصور کورکی به گورو
زمه یو په قربانیونور دارونه ستړی شوی

غزل

جاردی تصور ته بی‌وعدی راځی
ته کوی پلمی دی بی پلمی راځی

زښی ډسټم وهمه راوړی دی
ښکاری چې سهرلی سره ترځی راځی

ساخله ر انه لمردی دښمنی یاره
دا که دلته نه وی بیاتیاری راځی

پوښتنی محتسب چې د لمانځه راته
دوم دجنګیو می پهخولی راځی

ستا د ګام ښکالو چې می ترغوره ښې
زما په ژوره ناخاپه زلزلی راځی

لیکم چې سودونه زن غزل وروسته
یادته ستادوه ستر ګی پښتنی راځی

PROPERTY OF ACKU 2016

غزل

چیرته ساړه چیرته تاوده تالانگر
دلته تاوده دلته ساړه تالانگر

د نور وحسن کی ښکلا چوړوی
زمونږ ژوندگی ته نور رانجه تالانگر

د پردو غلاخو او ریدلی هرچا
دزړه و طن کی میلمانه تالانگر

نور خو تالان ته زورور راولی
خوستا کتل واړه واړه تالانگر

د ښکلو دی دستور حیران کړم څکه
ددوی ترخه ددو ی خواږه تالانگر

څوك خو دولت څوك خود نیالو تهوی
ښکلی یوازی دی دزړه تالانگر

ښکلی هرچیر ی کړی تالان دزړ ونو
که دی یوازی زما دزړه تالانگر

غزل

که سپرغی شی چیر ی یلی نووږمی یی رغوی
که وږمی خپله لمبه شی بیا یی څوك کراروی

که سیلی گلان تا لاکړی په سپرلو به شی ژوندی
خوسپرلی که تالانگرشی باغ به څوك زرغونوی

که د نیا شی تنده تنده نوساقی یی ساتوی
که ساقی وی خپله تږی نو یی څوك خړوبوی

زو ر ورو طوفانو کی خو مانو بیړی راژغوری
خومانو که دوبول کړی بیا یی څوك راسموی

که آشنا رانه څوك اخلی دخیالو کعبه خوشته ده
که خیالو نه وتل کاندی بیا یی څوك راجوړوی(۱)

(۱) ددی شعر اصلی موضوع دیوه متن په توګه زمایو دوست زمریال را کړی وه، او دا شعر دهغه په غوښتنه لیکل شوی دی.

لطیف بهاند د ... عمرزو په ۱۳۳۱ لمریز کال د کاب په بریکوټ کی زیږیدلی دی. په ۱۳۵۱ کال کی د حبیبی لیسی نه فارغ اود کابل پوهنتون دادبیاتو په پوهنځی کی یی په لوړو زده کړو وپیل وکړ. دزده کړو په څنګ کی یی درادیو د هنر او ادبیاتو په اداره کی هم کارکولو .په راډیو کی یی تمثیل نه برسیره په لسګونو داستانونه اوکره کتنی ولیکلی . د ۱۳۵۶ ش کال راهیسی یی د افغانستان دعلومو اکاډمی رادیو تلویزیون اودکابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو دپوهنځی د استاد په توګه رسمی کار کړی دی . لطیف بهاند اوس له هیواد نه بهر دهنری کره کتنی په برخه کی د دکتورا د اخستنی له پاره په زده کړو بوخت دی . په لسګونو مقالی، کره کتنی او شعرونه یی له ۱۳۵۲ ش کال راهیسی دهیواد په مطبوعاتو کی خپاره شوی او دایی دشعرونو لومړنی چاپی جونګ دی .

دافغانستان دلیکوالو انجمن

۱۸۰

۳۶۰

دولتی مطبعه